# مذهب پلوي او پښتون نېشنلزم

سعدالله مېوند

ربښتيا ده چې پښتون هم د اېشيا په زړهٔ کښې، هم د سياست، هم د جغرافيې او هم د فرهنګ په ډګر کښې هغه مېړنے قام دے چې د نړۍ په ګټ ګټ کښې د دې قام په حقله هم عام وګړي او هم ګڼ ټولنپوهان ډول ډول نظريات لري. چا ورته پټان وئيلي څوک ئې د غرونو اوسېدونکي او څينې ئې بيا هغه توريالے او جنګيالے قام بولي چې تل ئې له خپل ځان، خپلې خاورې، دين او وطن په کلکه دفاع کړې او د نړۍ هر بلوڅګر ئې په شا تمبولے دے. د پښتون قام تاريخي او جغرافيائي هم دغه استراتيژيک اهميت او د دغه باتور قام ګرمه وينه او له ژوند سره لېونۍ مينه ده چې تل ئې هم په خپل مينځ کښې او هم له نورو بلوڅګرو سره ډغرې وهلې او د خپل ملي او قامي استقلال دپاره جنګېدلي تباه شوي او بيا ئې هم په هسکه غاړه ژوند کړے دے.

دلته به مونږ حتٰي المقدور کوشش وکړو چې د پښتنو ترمنځ د نېشنلزم د قامولۍ او مذهبي اړيکو يا غوښتنو پر بنا چې له پېړيو پېړيو را په دې خوا ئې پښتانهٔ د سياست په ډګر کښې سره جنګولي او د دغه واحد قام ترمنځ ئې سياسي او عقيدوي فاصلې پېدا کړې دي، څهٔ ناڅهٔ رڼا واچوو او وبه ګورو چې ايا دغه ډول تشې انګېزې کوم حقيقي وجود هم لري او کنه؟

مونږ او تاسو پوهېږو چې نهٔ نوي %99 فيصده پښتانهٔ د اسلام د مقدس دين پېروان دي او هم دغه په خپل دين او مذهب مئين قام دے چې تل ئې له خپل دين او خپل قام په کلکه دفاع کړې او تل ئې د خپلې مذهبي عقيدې او ټولو اسلامي ارزښتونو احترام کړے دے او تر څنګ ئې زمونږ د هم دغه مقدس دين انساني لارښوونې دي چې پښتانهٔ ئې پښتو، خپلې عقيدې او د پښتو مثبتو کردارونو ته لا هم ورهڅولي او دغه قام ته ئې داسې يو ځانګړے مقام وربخښلے دے چې حتٰي د مذهبي مقدساتو تر څنګ په خپله پښتو هم سوګند کوي او پښتو ورته د يوهٔ انساني ايډيال په څېر قيمت او ارزښت لري چې هم ئې لکه د اسلام د مبين دين په وينه کښې اغږل شوے او هم ئې د ژوندانهٔ په نورو ګڼو



چارو کښې خپل دغه ژبني او قامي پت په ډېره ښه توګه ساتلې او پاللې دے خو په ډېر تاسف سره بايد يادونه وشي چې خصوصاً په پښتنو کښې د مذهب پالنې او نېشنلزم ترمنځ فاصلې پېدا شوې دي او د دغو دواړو ډلو ترمنځ تل د نظر او فکر دومره ژور اختلافات تر سترګو کېږي چې زما غوندې په زړۀ نرے انسان خو ښېخي لېونے کوي او داسې اټکل ورته پېدا کېږي چې خدائے مۀ کړه دغه اسلام پلوه او قام پرست ګوندونه دومره سره جدا او لرې دي چې ګواکي يو د بل په عقيدوي او قامي تشخص سترګې پټوي او تل د يوۀ او بل په خلاف داسې تبليغات کوي چې سړے فکر کوي دغه دوه ډلې په هر لحاظ سره بېلې او کوم خاص هدف نۀ لري. فکر کوم دا به هم د نړيوالو داړه مارانو او زمونږ د لرې او نږدې شومو استخباراتي تبليغاتو پايله وي چې تل ئې هڅه کړې د دغه عظيم او تاريخي قام ترمنځ ډول ډول اختلافات او تربګنې وزېږوي او د مختلفو سياسي نومونو او ايډيالوژيو په لومو کښې ئې داسې راګېرې کړي چې د خپل قامي وحدت او ملي وجود له وياړه ډک تصور ئې له زړۀ او مغزونو څخه وباسي او په ځان ناخبري توګه د مختلفو نظريو او لارو لارويان شي. له يوې خوا کۀ دغسې شُوم تبليغات لا هم په چټکۍ سره روان دي او د مختلفو مغلي او پښتون دښمنه دسيسو جال په خوربدو دے. ښائي زما او د بل هر باشعوره پښتون انساني، ملي، ديني او قامي دنده وي چې دغه حالات د زړۀ په سترګو وګوري. له مختلفو زاويو څخه چې جائزه واخلي او د حل لارې چارې ئې ولټوي. په خاصه توګه زمونږ قامي، مذهبي او سياسي، مشران ډېر دروند مسووليت لري چې د دغه ډول بې بنياده تبليغاتو مخه ونيسي او عملاً په داسې يوه سياسي، ټولنيز او هر اړخيز ميکانيزم لاس پورې کړي چې په ترڅ کښې ئې د پښتنانۀ قام ترمنځ ټول هغه بې ځايه اختلافات لرې شي چې له مودو مودو راهيسې ئې د دغه باتور قام ژوند له راز راز ګواښونو سره مخ کړے دے. يو ځل بيا هم يادونه کوم چې نومورې مشران او زمونږ روښان فکره طبقه اړ ده چې د اوسنيو حالاتو، د سياست، اقتصاد، ټولنيزو او بين المللي حرکتونو ټولو باريکيو ته کلکه پاملرنه وکړي او د حالاتو په دغه پيچلي بهير کښې د خپل قامي او ملي تشخص دپاره په خورا جرات مبارزه وکړي او پرې نۀ ږدي چې لا دې هم د دغه عظيم قام ترمنځ دغسې ناوړه تبليغات نوره هم وده ومومي بلکې په شعوري او ټولنيزه توګه دې زيار وباسي تر څو وکولے شي د پښتون هويت خبره چې په نننې نازک زماني او مکاني پړاو کښې ئې تر بل هر وخت شديد ضرورت محسوسيږي، را اوچته او په داسې انداز کښې دې د بقاء وحدت او د خپل قامي عظمت لوري ته بوځي چې نور نو دغه د ځپلي او کړېدلي ملت له هر ډول ناوړه خپل منځي اختلافاتو څخه رابهر او په خپل ټول قامي، قانوني طاقت سره د نننې عصر د ګرندي بهير سره ملګرتيا وکړي او د خپلو سياسي، حقوقي او ملي ارزښتونو په موندلو سره په شعوري توګه لکه د نړۍ نور قامونه د پرمختګ پړاونه ووهي.

لکه څنګه چې دلته زما اصلي موخه د دغه نوماند قام ترمنځ د هغوي په مذهبي او قامي ارزښتونو رڼا اچول دي چې نن سبا پښتانۀ مشران،

سیاست پوهان، سپین ږیري، علماء د خپل تېر وخت، اوسني دور او د راتلونکي وخت هغه ټول چیلنجونه د زړهٔ له کومې، محسوسوي او بحث پرې کوي چې د دغه قام د قامي تشخص په وړاندې پراتهٔ دي. دلته کهٔ مونږ په پښتنو کښې د اسلام پلوه ډلو خبره کوو نو دا خبره لکه د نمر روښانه ده چې د اسلام مبارک دین د دغه قام دپاره هغه ستره عقیده او سپېڅلې لاره ده چې د پښتون او بل هر قام دپاره ئې د اتحاد، نظم، یووالي، شورا، اخلاقي تقدس او د ټولنیزو اړیکو هغه ارزښتونه ستائیلي او ورپه ګوته کړي چې د دغه قام په فطرت کښې له ازل نه اغږل شوي او بیا ئې د دغه مبارک دین په الهي او نبوي ارشاداتو سره لا هم د هم دغه سپېڅلي قام ژوند ورسمبال کړے او د هر پښتانهٔ وینه او مینه ئې داسې سره ګډه کړې ده چې ټول ټال د هم دغه مقدس دین په اسماني ارشاداتو او د پښتون قام په قامي سپېڅلتیا باندې راڅرخي.

د مثال په توګه څښتن تعالی فرمائي: د ایت شریف محتوا او پېغام: تاسو مې پېدا کړئ ډلې ډلې د دې دپاره چې یو بل سره وپېژنئ او بېشکه چې زما خوښ دي متقیان.

زهٔ فکر کوم بلکې کامله عقیده لرم چې د پورتني الهي ارشاد او فرمان په صحیح او هر اړخیزه جائزې سره به مونږ ته دغه خبره بېخي روښانه شي چې زمونږ د سپېڅلي مذهب د حکمونو او قام پالنې د ارزښتونو ترمنځ هیڅ ډول مخالفت نشته بلکې دا خو هغه اسلام دښمنه او په خپله د بشریت ترمنځ د قامونو د استحصال شومې او ناولې دسیسې دي چې غواړي په لوئے لاس د نړیوالو قامونو او تهذیبونو ترمنځ فاصلې پېدا کړي او ځان ځاني ګټې وټې ترلاسه کړي، ګني خدائے (ج)



په پورتني ایت کښې په واضحه توګه فرمائي چې ما انسانان د دې دپاره ډلې ډلې پېدا کړل چې هغوي یو او بل سره وپېژني او د یوې سالمې مبارزې او سیالۍ په ترڅ کښې خپل ځانونه او قامونه مخ په وړاندې بوځي. ښهٔ نو کهٔ د نمونې په توګه مونږ دلته د پښتون قام د وجود او تشخص خبره کوو نو د دې دپاره چې په نړۍ کښې پښتون او یا بل هر قام خپله پېژندګلو، خپله ژبه او خپل روایات ولري او د خپل هغه طبعي او ازلي وجود د بقا دپاره شعوري هڅه وکړي چې د انساني ذات یوه برخه یا یوه ډله جوړوي او د لوئے څښتن له خوا هم ورته د دې دپاره دغه انساني ذات یعنې قامي تشخص ورکړل شوے دے چې د هم هغې خاصې ډلې د پېژندګلو سبب ګرځي، ایا دغه ډول کوشش او د قامولۍ د دغه ستر ارزښت ساتل زمونږ د پاک دین له حکمونو سره په

ټکر کښې راځي او کۀ د لوئے خښتن د پورتني فرمان په ځائے کول دي؟

هم دلته ده چې زمونږ اندېښنه نوره هم کمېږي او په دې خبره مو لا هم يقين او باور پخېږي چې د يو قام دپاره د هغه قامي تشخص ملي هويت او پېژندنه دومره ضروري ده لکه څومره چې ورته د اسلام د سپېځلي دين ارزښتونه او مقدس ارشادات دي ځکه چې خښتن تعالي د قامي تشخص په ځائے راوړلو نه وروستو سمدستي هغه قام او ډله خوښوي څوک چې متقيان او پرهېزګاران دي. اوس به راشو د دغو ډلو او قامونو ترمنځ هغې برخې ته چې هغې ته الله پاکؒ د تقوا نوم ورکوي لومړے خو ئې د قامي پېژندګلو خبره کوي او بيا د پرهېزګارۍ او تقوا۔

زمونږ د مبارک دين زياتره ديني او مذهبي ارشادات لکه د پورتني الهي ارشاد د تقوا او پرهېزګارۍ په سپېځلو ادونو را څرخي او هم دغه د دين او مذهب تر ټولو ستره روحي او جسمي ذايقه ده چې تل ئې انسان ته د ربښتينولۍ، دينيت او عمل د سپېځلتيا، تعقل، تفکر، صبر، رياضت او عظمت توصيه کړې ده او هم دغه سپېځلي الهي حکمونه او د انسان په تحت الشعور باندې ئې اغيز دے چې انسان د تقدس او تقوا لوري ته رهبري کوي او د لوئے خښتن په وړاندې يو انسان يا يوې ډلې ته په بله باندې فضيلت ورکوي او د خدائےؒ د باور وړ ګرځي. دلته کۀ بيا هم مونږ ځير شو د نورو قامونو په نسبت پښتو هغه يو اځينۍ الهي عطيه ده چې زمونږ د سپېځلي دين نه په الهام اخيستلو دغو ته ورته اخلاقي ارزښتونه لري ځکه خو په پښتو سوګند اخستل کېږي. د پښتو قدر کېږي او هر پښتون پرې د زړۀ له کومې فخر هم کوي ځکه چې پښتو هم لکه د اسلام د مبارک دين په شان د ربښتينولۍ، ايثار، لورينې، مېلمۀ پالنې، ښو اخلاقو، مړانې او داسې نورو اخلاقي ارزښتونو توصيه کوي او د ژوندانۀ په هر پړاؤ کښې مونږ ته په خپل هر اړخيز دين د پوره پوره عمل کولو هغه لارې چارې ښيي کومې چې زمونږ له دينې او مذهبي ارزښتونو سره کلکې اړيکې لري نو د هم دغه اصل په بنا مونږ دا وئيلے شو چې پښتونولي، د پښتون قام قامي وجود او د هويت تشخص ښېخي زمونږ له مذهبي لارښوونو او غوښتنو سره په يوه لار روان دي. نن کۀ مونږ د پښتون هويت دپاره د نېشنلزم کلمه استعمالوو او يا هم اسلام په اسلامستانو او نورو مذهبي ډلو پورې تړو زما پوخ باور دے چې دلته بيا هم هغه يو اسلام او يوه پښتو پرته ده د کومو چې پېغام هم سره يو او د وحدت او قوميت نظريه ئې هم سره داسې ورته والے لري چې مونږ ته نۀ ښائي يو مخ ئې له يو بل څخه بېل وګڼو.

البته د نظر اختلاف او د ژوندانۀ په ډګر کښې



د سياسي اړ و پېچ دغه ګرمې لوبې چې مونږ او تاسو ئې په ورځنيو چارو کښې شاهدان يو، په خپل ځائے بحث ته اړتيا لري خو زۀ دا په زغرده وئيلے شم چې په هيڅ ډول به د پښتون قام د قامي تشخص او مذهبي بلاک ترمنځ هغه مصنوعي بيلوالے څۀ ځائے ونۀ نيسي څۀ ته چې نننۍ بې سر و پښو مېډيا او يا هم نا اهله سياسي او ټولنيزې ځبرې داد او ډاډ ورکوي بلکې دغه ډول مصنوعي او د پښتون قام په سپېځلي وجود راتپل شوي نظريات او تبليغات به ډېر ژر معکوسه نتيجه ورکړي او د روانو ځاني او مکاني واټنونو په وړاندې به لا هم په دې وتوانيږي تر څو دغه د هاتي په غوږ کښې اودۀ قام راويښ او خپلو ملي او نورو سترو مسوولېتونو ته متوجه کړي ځکه چې د نننۍ دور ټولې سياسي، ټولنيزې، اقتصادي، فرهنګي او بېن المللي هڅې او کوششونه بالاخره پښتون قام په نړيواله کچه دې خبرې ته رابولي چې هغوي څنګه کولے شي په خپل واحد وجود باندې دغه ډول تپل شوي اختلافات لرې او يو ځل بيا ټولې نړۍ ته وښيي چې دا قام يو وجود، يو ملت، يو دين او يو مذهبي، ژبني، سياسي او ټولنيز ځواک دے چې هيڅوک به ئې هېڅکله هم د خپل قامي او واحد مذهبي وجود څخه ناوړه ګټه پورته نۀ کړي.

فکر کوم اوس وخت راغلے دے چې پښتون قام دې دغه اصل ته په پاملرنې سره له خپل واحد قامي وجود او ځانګړي تشخص څخه پوره پوره ګټه واخلي او خپل خدائے ورکړے ځان، ژبه او ملي هويت دې په نړيوالو وپېژني. خپل منځي او قانوني پېژندګلو خبره رااوچته او وروستو ته دې بيا د خپل منځي ستونزو د هوارولو په خاطر په خپلو کښې په خپله ژبه سره خبرې وکړي او د پرمختللو نړيوالو قامونو په ځبر دې اول د خپلو قامي او بيا بېن الاقوامي اړيکو مخکښان او ساتندويان شي.

پښتانۀ لر دي او کۀ بر، نېشنلستان دي او کۀ مذهب پلوه، وينه ئې يوه او مينه ئې هم له هم دغې پښتنې وينې څخه سرچينه اخلي چې تر هر څۀ مخکښې، انسانان، بيا پښتانۀ او بيا مسلمانان دي او د هم دغه خواږۀ امتزاج شور او جذبه ده چې ما يو ځل بيا هم هيله من کوي او د ټول پښتون قام، سياسي مشران، سکالران، ديني عالمان، باشعوره ځوانان، ټولنيز کارکوونکي او بل هر څوک د دغه اصل بېخ او معنۍ ته په کلکه راوبولي چې خپلو دغو ازلي او انساني ارزښتونو ته دې ټينګه پاملرنه وکړي د خپل ځان، خپل قام او خپل دين د تشخص او پېژندګلو دپاره دې شعوري هڅې پېل کړي او يو ځل بيا دې نړيوالو ته وښيي چې دغه باتور قام لکه څنګه چې د تورې او مېدان مړنے دے هم دغه شان د ژوند په هر مېدان کښې کولے شي په لوړ سراو وياړ سره ژوند وکړي. پښتونولي او ملت پالنه هغه ستره عطيه ده چې تر ټولو مخکښې زمونږ د ستر څښتن له خوا راباندې لورول شوې او د ساتنې، توصيه ئې راته کړې او بيا د نننۍ انساني قانون هغه جمهوري حق دے چې د يوۀ قام د پېژندګلو او په انساني تاريخ کښې د ژوندي پاتې کېدو ضمانت کوي. د خپل دغه قامي حق په خاطر په خپل يو شعر بسنه کوم. د ټولو انساني قامونو د نېکمرغۍ په هيله.

دغه دري اصله مې دري جهانه ارزي
چې انسان يم، مسلمان يمه افغان يم

***